چشم انداز اقتصادی افغانستان
د افغانستان اقتصادي لید
AFGHANISTAN ECONOMIC OUTLOOK

د افغانستان د اقتصادي او حقوقي مطالعاتو مؤسسه
موسسه مطالعات اقتصادی و حقوقی افغانستان
Afghanistan Economic & Legal Studies Organization

# AFGHANISTAN ECONOMIC OUTLOOK




30 DECEMBER 2022

## ADVANCING THE IDEAS FOR A PEACEFUL & PROSPEROUS AFGHANISTAN

RESEARCH & PUBLICATIONS DEPARTMENT

# فهرست مطالب


۱ ملل متحد خدمات قرضه‌های قسطی را به آواره‌گان داخلی در افغانستان راه اندازی کرد

۲ ۳,۵ میلیارد دالر پول افغانستان به بانک سویس انتقال یافته است

۳ بزرگترین محمولهٔ محصولات داخلی افغانستان از راه زمین به اروپا صادر شد

۴ قرارداد دهلیز هوایی میان افغانستان و هند به امضا رسید

۵ افغانستان به قزاقستان بیسکویت صادر کرد

۶ نخستین نمایشگاه ملی و بین‌المللی در کابل گشایش یافت

۷ هند به سرمایه‌گذاری روی پروژه‌های زیربنایی در افغانستان ادامه دهد

۸ افتتاح واحد سرمایه‌گذاری افغانستان و خدمات صدور ویزه عاجل در میدان هوایی کابل

۹ یک شرکت پروسس پنبه دیگر در کندهار ایجاد شد

۱۰ پاکستان از ترکمنستان از راه افغانستان گاز وارد می‌کند

۱۱ نمایشگاه سه‌روزه تحت عنوان «وطن ما، تولید ما» در کابل برگزار شد

۱۲ روی سرمایه‌گذاری مشترک با نماینده‌گان سکتور خصوصی تاتارستان و ایران گفت‌وگو صورت گرفت

# د مطالب فهرست


| | |
|---|---|
| ۱۳ | ملگرو ملتونو په افغانستان کې د داخلي بې ځایه شویو لپاره د قسط پور خدمتونه پیل کړل |
| ۱۴ | د افغانستان بانک ۳٫۵ میلیارد ډالر شتمنۍ د سویس بانک ته لیږدول شوې |
| ۱۵ | د افغانستان د تولیداتو لویه ټولګه اروپا ته واستول شوه |
| ۱۶ | افغانستان قزاقستان ته بیسکیټ صادر کړل |
| ۱۷ | په کابل کې لومړنی ملي او نړیوال نندارتون جوړ شو |
| ۱۸ | افغانستان هند پانګونې ته اړتیا لري |
| ۱۹ | هېواد کې د هوایي دهلیز له لارې د صادراتو او وارداتو زیاتوالی |
| ۲۰ | هرات کې ښځو ته د کاري زمینې برابرېدل |
| ۲۱ | له دولتي بنسټونو څه باندې یو مېلیارد افغانۍ پور راټول کړای شوی |
| ۲۲ | د کابل په هوایي ډگر کې د پانګې اچونې او بېړنۍ ویزې مرکزونو پرانسته وشوه |
| ۲۳ | پاکستان له ترکمنستان څخه د افغانستان له لارې ګاز واردوي |
| ۲۴ | هېواد زمونږ، تولیدات زمونږ تر سرلیک لاندې په کابل کې درې ورځنی نندارتون پرانیستل شو |
| ۲۵ | افغانستان د تاتارستان او ایران له خصوصي سکتورونو سره پر ګډه پانګونه خبرې وکړې |

# TABLE OF CONTENTS


26 Afghanistan gets new microfinance scheme

27 Afghan assets moved to Swiss bank generate $36 million

28 MoIC ships large consignment of Afghan products to Europe

29 Air corridor agreement signed between Afghanistan and India

30 Afghanistan exports biscuits to Kazakhstan

31 Kabul hosts major domestic and international expo

32 Afghanistan exports goods worth $1.2 billion

33 Pakistan's power regulator to devise mechanism for purchase of Afghan coal

34 Afghanistan open to Indian investment

35 IEA launches investment and visa center at Kabul airport

36 Another cotton processing factory established in Kandahar

37 Pakistan to import gas from Turkmenistan via Afghanistan

38 Three-day expo for Afghan products held in Kabul

39 Female Entrepreneur in Herat Provides Jobs for Women

40 IEA discusses business opportunities with Tatarstan and Iranian business-men

41 Over 1 billion Afs of Debts Collected

42 Afghanistan Exports over 3,000 Tons of Pine Nuts in Eight Months

# ملل متحد خدمات قرضه‌های قسطی را به آواره‌گان داخلی در افغانستان راه اندازی کرد

کمیشنری عالی ملل متحد در امور پناهنده‌گان با اولین بانک قرضه‌های کوچک افغانستان - شبکه انکشافی آغاخان - یک برنامه مالی کوچک جدید را برای کمک به آواره‌گان داخلی، عودت کننده‌گان و ساکنان جوامع میزبان که در فعالیت‌های تجاری کوچک مشغول استند، راه اندازی کرده‌اند.
این ادارهٔ ملل متحد با نشر اعلامیه‌ای گفته است که برنامه کمک‌های قرضه قسطی، برای کمک به کسب و کارهای کوچک و به ویژه شرکت‌های تحت مدیریت زنان است.
بر اساس این برنامهٔ مالی، عودت کننده‌گان افغان و آواره‌گان داخلی ۱۸ - ٦٠ ساله که دارای کارت شناسایی معتبر هستند و یک طرح تجاری منطقی دارند، می‌توانند برای تامین مالی «عودت مرابحه» درخواست دهند. قرضه‌ها از ۲۵هزار افغانی (۲۸۰ دالر امریکایی) تا حداکثر ۳۰۰هزار افغانی (۳۳۷۰ دالر امریکایی) با بازپرداخت اقساط ماهانه برابر تعیین می‌شود.
معلومات این ادارهٔ ملل متحد نشان می‌دهد که سه زن و دو مرد از جملهٔ اولین کسانی بودند که قرضهٔ خود را به تاریخ ۱۵ نوامبر دریافت کردند. این افراد در پروژه‌هایی مانند راه اندازی یک دکان کوچک یا راه اندازی یک کارگاه خیاطی مشغول هستند. کمیشنری عالی ملل متحد در امور پناهنده‌گان انتظار دارد که عواید افزایش یافته توسط این قرضه‌ها به بیش از ۳۵۰۰ نفر کمک کند. ملل متحد در نظر دارد که تا پایان سال روان میلادی از طریق این برنامه حدود ۳۴ میلیون افغانی را به ۵۰۰ تن از کسبه کاران قرضه بدهد.
لیونارد زولو، نماینده کمیشنری عالی سازمان ملل متحد در امور پناهندگان، گفته است: «افغان‌ها، به ویژه زنان، تلاش می‌کنند تا از خانواده‌های خود با مهارت‌ها و توانایی‌های بسیار قابل فروش حمایت کنند. این ابتکار به افراد کمک می‌کند تا در پله‌های کسب‌وکار جای محکمی داشته باشند و خود را تثبیت کنند و در عین حال رونق اقتصادی بیشتری را به جوامع خود ارایه دهند.»
ارزیابی‌های انجام شدهٔ کمیشنری عالی ملل متحد در امور پناهنده‌گان، ۸۰ منطقه دارای اولویت را در شهرهای کابل، هرات، جلال‌آباد، قندهار، مزارشریف و ۷۵ ولسوالی تشخیص کرده است.



# ۳,۵ میلیارد دالر پول افغانستان به بانک سویس انتقال یافته است

انور الحق احدی، عضو هیأت صندوق امانت پول‌های افغانستان در گفتگوی اختصاصی با آریانا نیوز می گوید که ۳,۵ میلیارد دالر پول افغانستان به بانک سویس انتقال یافته است و توسط هیأت چهار نفره حفاظت و نگهداری خواهد شد.

آقای احدی می‌افزاید که این سرمایه حق مردم افغانستان است که به دلیل تحریم‌های موجود بالای کشور، امریکا نمی‌خواهد به افغانستان سپرده شود؛ اما در صورت عادی‌شدن روابط جهان با افغانستان این سرمایه به بانک مرکزی انتقال خواهد یافت. او می‌گوید: «این سرمایه د افغانستان بانک است. روابط افغانستان با جهان نورمال نیست. هر زمانیکه روابط افغانستان با جهان نورمال شود، سرمایه موجود به بانک مرکزی انتقال خواهد یافت.»

به گفته آقای احدی، پول‌های که به سویس انتقال یافته است، پول‌های مصرفی نیست اما مطابق اساس‌نامه صندوق امانت، اگر مصارف ضروری باشد و دولت فعلی توان پرداخت آنرا نداشته باشد از این صندوق پرداخت خواهد شد.

آقای احدی خاطرنشان کرده است هدف از تشکیل هیأت صندوق امانت پول‌های افغانستان این است که از پول‌ها حفاظت کند و آنرا به دوران بیندازد تا درآینده نه چندان دور مقدار این سرمایه افزایش یابد. به گفته وی، تاکنون ۳٦ میلیون دالر مفاد از سرمایه انتقال یافته به این صندوق به دست آمده و به دارایی‌های افغانستان افزوده شده است.

نزدیک به چند ماه پیش امریکا اعلام کرد که ۳,۵ ملیارد دالر از پول‌های منجمد شده افغانستان را به صندوق امانت افغانستان در بانک سویس انتقال می‌دهد. هرچند این تصمیم ایالات متحده واکنش جدی امارت اسلامی را در پی‌داشت، اما ظاهراً این واکنش به نتیجه نرسید و امریکا سرمایه افغانستان را تحت نظارت هیأت چهار نفری به بانکی در سویس انتقال داد.



# بزرگترین محمولهٔ محصولات داخلی افغانستان از راه زمین به اروپا صادر شد

وزارت صنعت و تجارت می‌گوید بزرگترین محمولهٔ محصولات داخلی افغانستان از راه زمین طی مراسمی به سوی کشورهای اروپایی حرکت کرد.
به گفته مسوولان، این محصولات ۱۲۰ تُن است که کمتر از هفت تُن آن زعفران و متباقی میوه خشک می‌باشد که ارزش مجموعی آن به دو میلیون دالر می‌رسد.
در همین حال، مسوولان وزارت صنعت و تجارت ابراز کرده‌اند که آنان از تاجران کشور حمایت می‌کنند و به مشکلات شان رسیده‌گی خواهند کرد زیرا گسترش فعالیت‌های اقتصادی بستگی به سرمایه‌گذاری تاجران دارد.
از سویی هم، اتاق تجارت و سرمایه‌گذاری از تاجران می‌خواهد که در داخل کشور سرمایه گذاری کنند.
خانجان الکوزی، عضو این اتاق گفت: «امروز یک محمولهٔ بزرگ ۱۲۰ تُنی که چند میلیون دالر ارزش دارد از افغانستان حرکت می‌کند که نه تنها میوه خشک است بلکه زعفران، قالین و مواد معدنی می‌باشد که عملاً از مسیر کراچی، حیرتان و بندر عباس به کشورهای بیرونی صادر می‌شود.»
این در حالی است که ماه گذشته افغانستان محمولهٔ بزرگی از میوه خشک را از طریق بندر اسلام قلعه به آلمان صادر کرد که حدود ۱۲ تُن جلغوزه، ۸ تُن کشمش و پسته بود.



# قرارداد دهلیز هوایی میان افغانستان و هند به امضا رسید

در ادامه تلاش‌های امارت اسلامی مبنی بر گسترش روابط تجارتی و اقتصادی با کشورهای منطقه، وزارت صنعت و تجارت می‌گوید که اخیراً قرارداد دهلیز هوایی میان هند و افغانستان به امضا رسیده است و پس از این کالاهای تجارتی افغانستان از طریق هوا نیز به هند صادر خواهد شد.

سخنگوی وزارت صنعت و تجارت گفته است که صادرات کالاهای تجارتی افغانستان از طریق بندر «واگه» نیز به هند ادامه دارد و در یک سال گذشته، افغانستان بیش از چهارده میلیارد افغانی از طریق این بندر صادرات داشته است.

از سویی هم، کارشناسان اقتصادی نیز گفته‌اند که صادرات کالاها از طریق هوا تاثیر زیاد بالای اقتصاد افغانستان دارد.

سید مسعود، یکی از کارشناسان اقتصادی در این مورد گفت: «فکر می‌کنم که بالای اقتصاد، رفاه، درآمد ها و باورمندی‌های سیاسی افغانستان تاثیر زیاد وارد می‌کند.»

این در حالی است که به تازه‌گی اتاق تجارت و سرمایه‌گذاری افغانستان به همکاری وزارت صنعت و تجارت روند صادارت محمولهٔ میوه خشک و زعفران به ارزش دو میلیون دالر را از افغانستان به اروپا، استرالیا و کانادا از راه زمینی آغاز کرده است.



# افغانستان به قزاقستان بیسکویت صادر کرد

نخستین محموله بیسکویت ساخت افغانستان محصولی از یک فابریکه خصوصی در ولایت بلخ از طریق بندر حیرتان امروز (دوشنبه ۷قوس) به کشور قزاقستان صادر شد.

الله شکور قناعت بخش، رییس شرکت تولیدی الله شکور قناعت بخش می‌گوید: «نخستین محموله ی صادراتی آنان، شامل چهارتن، انواع بسکیت است.»

وی گفت همچنان تلاش دارند تا محصولات شان را به کشورهای دیگر نیز صادر کنند.

فابریکه تولیدی بیسکویت شرکت الله شکور قناعت بخش که در پارک‌های صنعتی شهر مزارشریف موقعیت دارد. روزانه توانایی تولید ده‌ها تن انواع بیسکویت را دارد.

به گفته مسوولین در فابریکه‌ی تولیدی، هم اکنون ششصد کارگر در دو تایم کاری مصروف کار استند.

این درحالی است که وزارت صنعت و تجارت می‌گوید که اخیراً قرارداد دهلیز هوایی میان هند و افغانستان به امضاء رسیده است و پس از این کالاهای تجارتی افغانستان از طریق هوا نیز به هند صادر خواهد شد.

از سویی هم، کارشناسان اقتصادی نیز گفته‌اند که صادرات کالاها از طریق هوا تاثیر زیاد بالای اقتصاد افغانستان دارد.



# نخستین نمایشگاه ملی و بین‌المللی در کابل گشایش یافت



به منظور رشد سرمایه‌گذاری و پشتیبانی از تولیدات داخلی کشور، نخستین نمایشگاه زیر نام نمایشگاه ملی و بین‌المللی امام ابو حنیفه «رح» توسط عبدالسلام حنفی، معاون رییس الوزرا با حضور مقامات ارشد حکومت و نماینده‌گان متشبثین داخلی و خارجی در کابل گشایش یافت.

این نمایشگاه برای هفت روز برگزار شده که در آن محصولات و تولیدات بیش از ۶۰۰ شرکت داخلی و بین‌المللی به نمایش گذاشته شده است.

مسوولان اتاق تجارت و سرمایه‌گذاری با ابراز امیدواری گفته‌اند که این نمایشگاه می تواند فرصتی را مهیا کند که تجارت‌پیشه‌های افغانستان با تاجران خارجی ارتباط برقرار کنند.

# هند به سرمایه‌گذاری روی پروژه‌های زیربنایی در افغانستان ادامه دهد

حکومت افغانستان از کشور هند خواسته است که به سرمایه‌گذاری روی پروژه‌های زیربنایی در افغانستان ادامه دهد.

سهیل شاهین، رییس دفتر سیاسی امارت اسلامی در قطر گفته است که هند به ارزش سه میلیارد دالر روی پروژه‌های مختلف در افغانستان سرمایه‌گذاری کرده است. آقای شاهین اخیراً در یک مصاحبه با یک روزنامه هندی از تأمین امنیت شهروندان هند در افغانستان اطمینان داده و از مقامات این کشور خواسته است کار روی پروژه‌های که توسط این کشور نیمه‌کاره باقی مانده است را از سر بگیرند.

در همین حال، شماری از کارشناسان اقتصادی از علاقه‌مندی امارت اسلامی برای جلب سرمایه‌گذاری‌های کشورهای منطقه ابراز خرسندی می‌کنند و می‌گویند ادامه سرمایه‌گذاری‌های هند در افغانستان می‌تواند افغانستان را به یک توسعه پایدار نسبی اقتصادی برساند.

گفتنی است امارت اسلامی در حالی خواستار سرمایه‌گذاری و آغاز کار پروژه‌های نیمه‌کارهٔ هند در افغانستان شده که بر بنیاد آمارها، اکنون ۴۰۰ پروژهٔ این کشور ناتکمیل مانده است.



# افتتاح واحد سرمایه‌گذاری افغانستان و خدمات صدور ویزه عاجل در میدان هوایی کابل

حکومت افغانستان مرکز واحد سرمایه‌گذاری و خدمات صدور ویزه فوری را در میدان هوایی کابل افتتاح نمود.

در مراسمی که به همین منظور برگزار شده بود وزیر صنعت و تجارت گفته است که ایجاد این مراکز برای تسهیل خدمات تخنیکی و صدور ویزه برای تاجران و سرمایه‌گذاری بین المللی امر ضروری است.

این مرکز به تاریخ (۱۶قوس) از سوی نورالدین عزیزی، وزیر صنعت وتجارت، وزیر مالیه، وزیر ترانسپورت و هوانوردی، معین وزارت داخله، معاون اتاق تجارت و سرمایه‌گذاری و شماری از اراکین بلند پایه امارت اسلامی و سکتورخصوصی طی یک محفلی در میدان هوایی کابل افتتاح شد.



# یک شرکت پروسس پنبه دیگر در کندهار ایجاد شد



مسوولان در ولایت کندهار می‌گویند یک شرکت پروسس پنبه دیگر با هزینه بیش از پنجاه میلیون افغانی در این ولایت ایجاد شده است.
به گفته آنان، این شرکت قابلیت پروسس ۳۲ تن پنبه و دو تن روغن، دونیم تن صابون را در مدت ۸ ساعت دارد.
در همین حال، مسوولان در اتاق تجارت وصنعت ولایت کندهار گفته‌اند اگر مشکلات برق در پارک‌های صنعتی کندهار حل شود شرکت‌های که غیر فعال شده‌اند دوباره فعال خواهند شد.
سید سرور امانی، رییس اتاق تجارت و صنعت کندهار می‌گوید با حل مشکل برق کارخانه‌های بیشتر در این ولایت فعال خواهد شد.
با این حال، سرمایه‌گذاران نیز از مشکلات موجود در پارک‌های صنعتی شکایت دارند و می‌گویند همه ساله با مشکلاتی زیادی مواجه می‌شوند.
مقام‌های محلی اما ابراز کرده‌اند که برای حل مشکلات سرمایه‌گذاران و فراهم‌کردن زمینه‌کاری برای مردم تلاش خواهند کرد.
این در حالی است که اکنون در پارک‌های صنعتی ولایت کندهار ۲۷ شرکت پروسس پنبه فعالیت دارد و برای هزار وپنجصد تن به‌گونه مستقیم و برای سه هزار تن به‌گونه غیرمستقیم زمینه کار فراهم شده است.
سالانه از این شرکت‌ها، ۱۷۰هزار تن پنبهٔ پروسس شده به بیرون از کشور صادر می‌شود که عاید آن به چهار صد میلیون دالر امریکایی می‌رسد.

# پاکستان از ترکمنستان از راه افغانستان گاز وارد می‌کند

بربنیاد گزارش‌ها، حکومت پاکستان در نظر دارد از طریق افغانستان از ترکمنستان گاز مایع وارد کند.
روزنامه «پاکستان تودی» گزارش داده است که گمرک کویته، مرکز ایالت بلوچستان، پس از مشورت با نهادهای ذیدخل، طرحی را به بورد ایالتی عواید برای تورید گاز مایع از راه چمن فرستاده است.
به گزارش این روزنامه، حکومت ایالتی بلوچستان برای این اقدام بزرگ آماده است و به ورود موترهای حامل گاز مایع اجازه خواهد داد.
براساس این طرح، راننده‌گان افغان موترهای باربری خالی کشور پاکستان را از مرز چمن به مرز ترکمنستان انتقال می‌دهند و با گاز مایع دوباره بر می‌گردند و در مرز چمن به راننده‌گان کشور پاکستان تحویل می دهند.
این طرح شامل سه مرحله می شود. مرحله اول فوراً آغاز می‌شود. مرحله دوم یا کوتاه مدت شش الی هشت ماه و مرحله سوم یک سال را دربر خواهد گرفت.



# نمایشگاه سه‌روزه تحت عنوان «وطن ما، تولید ما» در کابل برگزار شد

وزارت اقتصادی می‌گوید بیش از دوصد شرکت تولیدات و محصولات شان را در یک نمایشگاه سه‌روزه در کابل تحت عنوان «وطن ما، تولید ما» به نمایش گذاشتند. عبداللطیف نظری، معین وزارت اقتصاد با حضور در این نمایشگاه گفته است امارت اسلامی از تولیدات داخلی و صنایع نوپا حمایت می‌کند اما می افزاید که تحریم‌ها، محدودیت‌ها، و منجمد ماندن ذخایرارزی سبب شده تا حکومت نتواند پروژه‌های بزرگ اقتصادی را راه اندازی کند.

آقای نظری هم‌چنان ابراز کرده که وزارت اقتصاد پالیسی اقتصادی را تدوین کرده است که شامل حمایت از سکتور خصوصی، آغاز دوباره پروژه‌های نیمه‌کاره، نهادینه سازی تولیدات داخلی، جلب کمک‌های انکشافی در کنار کمک‌های بشردوستانه و ایجاد فضای علمی به تولید و سرمایه‌گذاری می شود.

از سویی هم، یونس مهمند، معاون اتاق تجارت و سرمایه‌گذاری می‌گوید بیش از هر زمان دیگر سرمایه گذاران مورد حمایت حکومت قرار دارند. در همین حال، ممتاز یوسفی، رییس اتاق تجارت و صنایع زنان گفته است که زنان تجارت پیشه نیز در این نمایشگاه حضور و نقش برجسته دارند.



# روی سرمایه‌گذاری مشترک با نماینده‌گان سکتور خصوصی تاتارستان و ایران گفت‌وگو صورت گرفت



نورالدین عزیزی، وزیر صنعت و تجارت در ارتباط به سرمایه‌گذاری مشترک با نماینده‌گان سکتور خصوصی جمهوری تاتارستان و کشور ایران در کابل دیدار و گفت‌وگو کرده است.

در این ملاقات، معین وزارت معادن و پطرولیم و نماینده‌گان وزارت آب و برق در رابطه به سرمایه گذاری مشترک (KR Group) با جمهوری تاتارستان و سرمایه‌گذاران ایرانی هم‌چنان بحث و گفت وگو کردند.

به گفته این وزارت، نماینده‌گان وزارت‌های آب و برق و معادن و پطرولیم در مورد پروژه‌های که آمادهٔ سرمایه‌گذاری می‌باشد و هم‌چنان مکان‌های استخراج زغال‌سنگ در ولایات مختلف افغانستان معلومات ارایه کردند.

در این دیدار، در رابطه به زمان و مکان ملاقات حضوری و امضای تفاهم‌نامه میان مسوولین (KR Group) تاتارستان و سرمایه‌گذاران ایران نیز تصمیم اتخاذ شد.

وزارت صنعت و تجارت اطمینان داده است که مسودهٔ تفاهم‌نامه و معلومات ارایه شده از سوی وزارت‌های آب و برق و معادن و پطرولیم به هر دو طرف شریک خواهد شد.

گفتنی است که مسوولین (KR Group) جمهوری تاتارستان و سرمایه‌گذارانی از کشور ایران آماده‌اند تا در تولید برق از زغال‌سنگ در افغانستان سرمایه‌گذاری کنند.

# ملګرو ملتونو په افغانستان کې د داخلي بې ځایه شویو لپاره د قسط پور خدمتونه پیل کړل

د کډوالو په چارو کې د ملګروملتونو عالي کمیشنرۍ او د افغانستان د کوچني پورونو لومړنی بانک - د آغا خان پرمختیایي شبکې - د کوچني پورونو یو نوی پروګرام په لاره اچولی، چې د داخلي بې ځایه شویو خلکو، راستنیدونکو او د کوربه ټولنو له اوسیدونکیو سره مرسته وکړي، چې په کوچنیو سوداګریزو فعالیتونو کې بوخت دي.
مسوولین وايي، چې پور اخیستونکي کولی شي، چې پدې پورونو واړه سوداګریز فعالیتونه پیل کړي.
د ملګرو ملتونو د دې ادارې د اعلامیې له مخې؛ دا پورونه به له هغو کار و بارونو او شرکتونو لپاره ګټور تمام شي، چې د ښځو لخوا اداره کېږي.
د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمېشنرۍ تمه لري، چې د دې پورونو له لارې له ۳۵۰۰ څخه زیاتو خلکوسره مرسته وکړي.
د ملګرو ملتونو دغه اداره په پام کې لري، چې د روان کال تر پایه د دغه پروګرام له لارې ۵۰۰ سوداګرو ته ۳۴ میلیون افغانۍ پور ورکړي.
دا په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د کډوالو د عالي کمیشنرۍ لومړنی نوښت دی، چې موخه ترې په تولیدي اقتصادي فعالیتونو کې ګټه پورته کول دي. دا نوښت د لومړیو کوچنیو پورونو د ورکړې مالي بانک لخوا پیل شوی دی. په پینځه ولایتونو، بلخ، بامیان، هرات، کابل او ننګرهار کې به عملي شي او نورو ځایونو ته به هم وغزول شي.
د دې مالي پروګرام له مخې: هغه افغان راستنېدونکي او بې ځایه شوي، چې عمر یې له ۱۸ څخه تر ۶۰ کلونو پورې وي؛ تذکرې او د سوداګرۍ مناسب پلان ولري کولی شي له ۲۵۰۰۰ افغانیو څخه تر ۳۰۰۰۰۰ افغانیو پور تر لاسه کړي.
بل لور ته د هېواد یوشمېر متشبثې میرمنې وايي، که دا پور د کوچنیو تشبثاتو پرځای په لویو صنایعو کې تزریق شي پایله به یې زیاته ګټوره وي.
متشبثه میرمن نفیسه دانش وايي: مونږ هیله لرو، چې دا پورونه باید لویو صنعتکارانو ته ورکړ شي، چې د هغوی کارونه هم غښتلې شي او هم ورسره کوچني تشبثات وده وکړي؛ ځکه مونږ په تېر کې هم تجربه لرو، چې پر کوچنیو کار و باورنو مو لګښت وکړ؛ خو پایله یې سمه نه وه.
د اقتصادي چاروکار پوهان هم د ملګرو ملتونو له دې پرېکړې هرکلی کوي او زیاتوي، چې د میرمنو ورتیاوو لوړولو لپاره د پور ورکړه اړینه ده.
اقتصادي شنونکی عصمت الله محمدي وايي: زما له نظره د نړیوالو بنسټونو ټول هغه اقدامات د قدر وړ دي، چې له افغانستان سره د مالي پیاوړتیا لپاره یې تر سره کوي؛ خو زماله نظره که دا پور لویو پانګوالو ته ورکړ شي، ښايي پایله یې زیاته مثبته وي.

د کډوالو په چاروکې د ملګرو ملتونو عالي کمیشنرۍ لخوا ترسره شوې ارزونې د کابل، هرات، جلال آباد، کندهار، مزارشریف او ۷۵ ولسوالیو په ښارونو کې ۸۰ لومړیتوب لرونکي سیمې په ګوته کړې دي، چې رسمي مالي لګښتونه یې د ځان بسیاینې پروړاندې یو لوی خنډ دی.



# د افغانستان بانک ۳,۵ میلیارد ډالر شتمنۍ د سویس بانک ته لېږدول شوې

په سویس کې د افغانستان بانک زیرمې ته د جوړ شوي وجهي صندق د بورډ غړ ی انورالحق احدي له آریانا نیوز سره په ځانګړې مرکه کې ویلي؛ د سویس بانک ته لېږدول شوې آزاده شوې پانګه ده، چې د دغه جوړ شوي بورد د ۴ غړیو لخوا ساتل کیږي.
انوارالحق احدي زیاته کړې، چې څلور کسیز بورډ، چې د پیسو د لګښت په اړه ځارنه کوي او په پرېکړو کې د ویټو حق هم لري. د دغه بورډ له اجماع پرته به د پیسو د لګښت په اړه هیڅ کومه پرېکړه عملي نشي.
د احدي د څرګندونو له مخې؛ د افغانستان د دې پانګې د ځارنې په بورد کې د افغانستان بانک استازی نشته؛ خو د مشورتي کمیته له جوړېدو سره شونې ده، چې وروسته د افغانستان بانک استازی هم په کې وي.
په سویس کې د افغانستان د پیسو د وجهي صندوق د بورد غړی انورحق احدي په ډاګه کړې؛ د افغانستان د ټولو کنګل شویو شتمنیو ۳ اعشاریه ۵ میلیارد ډالر په سویس کې د BIS بانک ته سپارل شوي او یو څلور کسیز پلاوی یې ځارنه کوي.
احدي زیاتوي؛ دا پانګه د افغانستان بانک حق ده؛ خو پر افغانستان د بندیزونو له کبله امریکا نه غواړي، چې دغه پیسې افغانستان بانک ته ولیږل شي.
احدي زیاتوي؛ که له نړۍ سره د افغانستان اړیکې عادي شي، دا پیسې به د افغانستان بانک په واک کې ورکړ شي.
په سویس کې د افغانستان د پیسو د وجهي صندوق د بورډ غړی انوار الحق احدي ویلي؛ سویس ته لېږدول شوې پیسې د لګښت لپاره ندي، بلکې د صندوق د تګلارې له مخې هغه ضروري لګښتونه ترې ورکول کېدای شي، چې افغان حکومت یې له ورکړې عاجز وي.
د احدي د څرګندونو له مخې؛ د افغانستان د پیسو د وجهي صندوق د جوړیدو هدف د پیسو خوندي کول او په دوران کې اچول دي تر څو ګټه وکړي.
احدي دا هم ویلي، چې د نویو پیسو د چاپ لګښت مونږ ورکولو ؛ خو د افغانستان بانک بریالی شوی، چې د نویو چاپ شویو پیسو لګښت ورکړي.
د احدي د څرګندونو له مخې اوسمهال د افغانستان بانک شتمني په سویس کې امانت ده؛ لګښت ترې ندی شوی او په دوران کې اچول، چې مونږ ته یې تر اوسه ۳٦ میلیون ډالره ګټه رسولې ده.



امریکا څه موده مخکې اعلان کړی، چې د افغانستان ۳,۵ میلیارد کنګل شوي ډالر به د سویس په یوه بانک کې د افغانستان وجهي صندوق ته لېږل کیږي؛ خو د امریکا دغه پرېکړه د اسلامي امارت له سخت غبرګون سره مخ شوه. اسلامي امارت ټینګار کړی، چې دا پیسې د افغان ملت دي او له د افغانستان بانک پرته بل هیڅوک یې د کارولو او لګولو واک نلري.

# د افغانستان د تولیداتو لویه ټولګه اروپا ته واستول شوه

د منځنۍ آسیا هېوادونو له لارې اروپایي هېوادونو ته د افغانستان تر ټولو لویې صادراتي ټولګې اورپایي مارکیټونو ته حرکت وکړ.

د صنعت او سوداګرۍ وزارت مسوولینو ویلي؛ په نړیوالو مارکیټونو کې د افغانستان کرنیزو محصولاتو ته اړتیا زیاته شوې او هڅه کوي، چې خصوصي سکتور نور هم د صادراتو پراختیا ته وهڅوي.

دا هغه لویه سوداګریزه ټولګه ده، چې له افغانستان څخه به د منځنۍ آسیا هېوادونو له لارې په یوه میاشت کې اروپایي مارکیټونو، آلمان، آسترلیا او کانادا ته ورسیږي.

دا سوداګریز توکې، چې ۱۲۰ ټنوته یي وزن رسیږي نږدې ۷ ټنه په کې زعفران او نور د هېواد بېلابېلې وچې مېوې او کرنیز محصولات شته، چې مالي ارزښت یي دوه میلیون امریکایي دالرو ته رسیږي.

د خصوصي سکتور غړیو ویلي؛ په هېواد کې د پخوا پر پرتله سوداګرۍ ته آسا نتیاوي زیاتې شوي، نو له همدې کبله ورځ تربلې صادرات د پراختیا په حال کې دي.

د خصوصي سکتور غړیو هو څرګنده کړې، چې تر دې دمه یي نږدې یو نیم میلیارد دالر صادرات کړي او د روان کال تر پایه به دا کچه تر دوه میلیارد دالرو ورسیږي.

دوی د صنعت او سوداګرۍ له وزارته غوښتنه کوي، چې له ګاونډ هېوادونو سره د هېواد د ترازنیتي ستونزو د اوارۍ لپاره هڅې پراخې کړي.

د سوداګرۍ او پانګونې غړي خان جان الکوزي ویلي؛ مونږ کولی شو د خپل هېواد صادرات نور هم پراخ کړو. له صنعت او سوداګرۍ وزارته غوښتنه کوو، چې له ځینو ګاونډ هېوادونو سره زمونږ د ترانزیت ستونزه اواره کړي.

د صنعت او سوداګرۍ وزارت مسوولین وایي؛ هڅه کوي د سوداګرو ټولې هغه ستونزې، چې د دوی په وس کې دي ورته حل کړي.

دوی زیاته وي، چې اسلامي امارت د خپل هېواد ټولو اقتصادي فعالیت کوونکو څخه که هغه په سوداګرۍ او یا د صنعت په برخو کې بوخت وي؛ دوی ترې خپل ملاتړ کوي.

د صنعت او سوداګرۍ وزارت مرستیال قدرت الله جمال وایي: مونږ تل له خپل خصوصي سکتور څخه ملاتړ کړی او ژمنه کوم، چې مونږ به نور هم له خصوصي سکتوره ملاتړ پراخ کړو، چې هېواد مو ورسره اقتصادي ځان بسیاینې ته ورسیږي.




د اقتصادي چارو کارپوهان هم له اسلامي امارته غواړي، چې د خصوصي سکتور ملاتړ ته نوره هم پراختیا ورکړي، چې په هېواد کې د روان اقتصادي بحران د مدیریت لپاره لار اواره شي.

# افغانستان قزاقستان ته بیسکېټ صادر کړل

د حیرتان بندر له لارې د افغانستان د بیسکیټو لومړۍ جوپه، چې د بلخ ولایت د یوې خصوصي فابریکې تولید دی؛ قزاقستان هېواد ته صادر شول.

د الله شکور قناعت بخش تولیدي شرکت مشر الله شکور قناعت بخش ویلي: د دوی په لومړۍ صادراتي ټولګه کې څلور بنې بیسکیټونه د فزاقتستان هېواد ته صادر شوي دي.

هغه ویلي، چې دوی هڅه کوي، چې خپل تولیدات نورو هېوادونو ته هم صادر کړي.

د الله شکور شرکت د بیسکیټو د تولید فابریکه، چې د مزارشریف ښار په صنعتي پارکونو کې موقعیت لري؛ هره ورځ د لسګونه ټنه بسکیتو د تولید له وړتیا برخمنه ده.

د دغې تولیدي فابریکې د مسوولینو د معلوماتو له مخې؛ اوسمهال په دوه وختونو کې شپږ سوه کارکوونکي  کار کوي.

د صنایعو او سوداګرۍ وزارت ویاند ویلي، چې هند ته د افغانستان د سوداګریزو توکو صادرات د واګې بندر له لارې دوام لري او په تېر کال کې افغانستان له دې بندره څه باندې څوارلس میلیارد افغانیو توکي صادرې کړې دي.

د دغه وزارت ویاند عبدالسلام جواد وایي: له هند سره زمونږ سوداګري د واګې بندر له لارې په عادي توګه روانه ده. تېر کال مو له ۱۴ میلیارد افغانیو ډېر صادرات لرل، چې ټول وزن یې ۳۰ زره ټنو ته رسېدلی دی.

د اقتصادي چارو کارپوهانو ویلي، چې د هوا له لارې د توکو صادرات د افغانستان پر اقتصاد ډېر اغېز لري.

دا په داسې حال کې ده، چې د افغانستان د صنایعو او سوداګرۍ وزارت وایي، چې په دې وروستیو کې د هند او افغانستان ترمنځ د هوایي دهلېز تړون هم لاسلیک شوی او له دې وروسته به د افغانستان سوداګریز توکي د هوا له لارې هند ته صادرېږي.



# په کابل کې لومړنی ملي او نړیوال نندارتون جوړ شو

د افغانستان په پلازمېنه کابل کې د هېواد د تولیداتو، خدمتونو او سوداګریزو محصولاتو د پوره پېژندنې لپاره امام ابو حنیفه "رح" نومی ملي او نړیوال نندارتون جوړ شو.

دغه نندارتون د امام ابوحنیفه رحمة الله په نامه اووه ورځې دوام لري، چې له شپږ سوه څخه د ډېرو کورنیو او نړیوالو شرکتونو تولیدات په کې نندارې ته ایښودل شوي دي.

دې نندارتون ته د اسلامي امارت مشرتابه مولوي هیبة الله آخوندزاده په یوه غږیز پیغام کې ویلي، چې افغان پانګوال باید په هېواد کې پانګونه وکړي او هېواد باید د اقتصادي ودې لپاره پر بهرنیو مرستو تکیه ونکړي.

د نوموړي د څرګندونو له مخې: د یو هېواد اقتصاد هغه وخت جوړیږیو چې خپل خلک یې متې راونغاړي، د یو او بل لاسنیوی وکړي او د بهرنیانو پر مرستو تاکیه ونکړي.

د رییس الوزرا اداري مرستیال عبدالسلام حنفي ویلي، چې اسلامي امارت د ملي امنیت د خوندیتوب او اقتصادي فرصتونو د برابرولو لپاره کار کوي او د کورنیو تولیداتو ملاتړ یې لومړیتوب دی.

عبدالسلام حنفي زیاته کړې، که ملي سوداګر په دولتي ادارو کې له رشوت سره مخ شي؛ د شکایت حق لري او زر به یې ستونزه حل کړي.

د رییس الوزار اداري مرستیال عبدالسلام حنفي وایي: هغه وویل: هیڅوک نشي کولی، چې په دولتي ادارو کې له یو ملي سوداګرڅخه د رشوت غوښتنه وکړي. مونږ چمتو یوو، چې هر هغه دولتي چارواکی، چې له یوه ملي سوداګر څخه رشوت وغواړي لبه اسلامي اصولو سره سم تعقیب کړو.

په دغه نندارتون کې د اسلامي امارت یو شمېر نورو چارواکو هم ویلي، چې په افغانستان کې د پانګونې لپاره ښه زمینه برابره شوې ده.

د صنعت او سوداګرۍ وزارت سرپرست نورالدین عزیزي وایی: له کورنی تولید ملاتړ مو د خپل ملي اقتصاد ملا تړل دي؛ باید ټول له کورنیو تولیداتو ملاتړ وکړو

دغه راز د کانونو او پترولیم وزارت سرپرست شهاب الدین دلاور وایي؛ د کوچنیو کانونو استخراج هیڅکله بهرنیو شرکتونو ته نه ورکول کیږي.

نوموړی وایي: د کانونو د استخراج په اصولو کې له افغانانو پرته بل چا ته کوچني کانونه نه ورکول کېږي او په ټول هېواد کې د ۱۷۸ کوچنیو کانونو قراردادونه افغانانو ته ورکړ شوي دي.



دوی د سوداګرو، پانګوالو او د سوداګرۍ خونې فعالیت په افغانستان کې د کورنیو او نړیوالو پانګوالو په جلبولو کې اغېزناک ګڼي.

د سوداګرۍ او پانګونې خونې مرستیال محمد یونس مومند وایي، دغه نندارتون یې له بهرنیو مرستو پرته جوړ کړی دی.

مسوولین تمه لري، چې دغه نندارتون به افغان سوداګرو ته له بهرنیو سوداګرو سره اړیکو برابرولو ته دادمنه زمینه هم برابره کړي.

# افغانستان هند پانګونې ته اړتیا لري

په قطر کې د اسلامي امارت د سیاسي دفتر مشر سهیل شاهین ویلي؛ هند په افغانستان کې د درې میلیارد ډالرو پر ارزښت پانګونه کړې او اوس له دې هېواده غواړي، چې خپلې پروژې بشپړې کړي.

سهیل شاهین له یوې هندي رسنۍ سره په مرکه کې د هندي وګړیو د امنیت له خوندیتوبه هم ډاډ ورکړی او زیاتوي، چې دغه هېواد دې په افغانستان کې د خپلو نیمګړیو پروژو چارې بیا پیل کړي.

نوموړي ویلي: په افغانستان کې هند ته پر بنسټیزو برخو په ځانګړي توګه د ښاري بېخبناوو لپاره د پانګونې زمینه مساعده ده. په افغانستان کې د هند پانګونه درې میلیارد دالره ارزول شوې، چې لویې پروژې یې د سلما بند رغول، د ۴۲ میګاواټه اوبیز برښنا استیشن، د ایران مهم بندرونه لکه چابهار او د افغانستان د پارلمان ودانۍ شاملې دي. هند کولی شي د هغو پروژو چارې بیا پیل کړي، چې په نیمایي کې یې پرې ایښې دي او پر نویو پروژو هم پانګونه وکړي.

دغه راز د افغانستان اسلامي امارت د ښاري پراختیا وزیر حمدالله نعماني په دې وروستیو کې د هند له شارژدافیر بهارت کمار سره لیدلي او وایي، چې هېواد یې د بېخبناوو په بیارغونه او دوام کې د هند مرستې ته اړتیا لري.

همدارنګه د اسلامي امارت یو بل لوړپوړي غړي انس حقاني په عربي متحده اماراتو کې له یو شمېر افغانانو سره د لیدنې پر مهال ویلي، چې افغانستان اوس له جګړه ییز حالته وتلی او امنیت ټینګ شوی دی.

نوموړي همدا راز زیاته کړې، چې اسلامي امارت په افغانستان کې پر اوږدمهاله اقتصادي برنامو کار کوي څو هېواد آبادۍ ته ورسېږي.

اقتصادي شنونکی شبیر بشیري د سیمې هېوادونو له لوري په افغانستان کې د پانګوني راجلبولو پر لیوالتیا خوښي ښيي او وایي، چې په افغانستان کې د هند پانګونه کولی شي هېواد یوه نسبي پایداره اقتصادي پراختیا ته ورسوي.




اسلامي امارت داسې مهال په افغانستان کې د هند د نیمګړیو پروژو د بشپړېدو غوښتنه کوي، چې د یو شمېر څرګندونو له مخې؛ دا مهال د دې هېواد د ۴۰۰ پروژو چارې نیمګړې پاتې دي.

# هېواد کې د هوايي دهليز له لارې د صادراتو او وارداتو زياتوالی

د ماليې وزارت د هوايي دهليزونو له لارې د صادراتو او وارداتو له زياتوالي خبر ورکوي.
د ماليې وزارت وياند احمد ولي حقمل زياتوي چې له ۱۵ مياشتو راهيسې يوازې د کارگو له لارې کابو ۸ مېلیارده افغانۍ واردات او د ۴ أعشاريه ۳ مېلیارده افغانيو په ارزښت صادرات شوي دي.
ښاغلي حقمل وويل:«په تېرو ۱۵ مياشتو کې د ۷،۸ مېليارد افغانيو په ارزښت د افغانستان د هوايي کارگو له لارې توکي وارد شوي دي. ماليې وزارت له دې لارې ۹۵۰ مېليونه عوايد راټول کړي دي.»
له دې سره سم، د صنعت او سوداگرۍ وزارت وايي، له اتو مياشتو راهيسې د هوايي دهليزونو له لارې د غاليو، جلغوزې، هېنگ او لاسي صنايعو په گډون ۸۰۰ ټُنه سوداگريز توکي هند او چين ته صادر شوي دي.
د صنعت او سوداگرۍ وزارت وياند اخندزاده عبدالسلام جواد وويل:«په تېرو اتو مياشتو کې د هوايي دهليز له لارې هند او چين ته زموږ صادرات وو. کابو ۶۰۰ ټنه توکي مو د هوايي دهليز له لارې چين ته صادر کړي او د يوه خصوصي شرکت له لارې کابو ۲۰۰ټنه صادرات مو هندوستان ته وو، همدارنگه نورو هېوادونو ته مو د دوبۍ له لارې صادرات لرل.»
له بل لوري يو شمېر سوداگر وايي، اوسنيو شرايطو ته په کتو اړتيا ه چې، دغه ډول هوايي دهليزونه اروپايي هېوادونو ته هم جوړ شي.
سوداگر محبوب الله محمدي څرگندوي:«هوايي دهليز زموږ د هېواد د سترو سوداگريزو فرصتونو برخه ده. البته په هره کچه چې موږ صادراتي فرصتونه د هوايي دهليزونو له لارې هندوستان، چين او عربي، اروپايي او امريکايي هېوادونو ته زيات کړو، په هماغه اندازه زموږ پر صادراتو مستقيمې اغېزې لري.»
د سوداگرۍ او پانگونې خونې د مالوماتو له مخې، په ۱۴۰۰ کال کې ۵ زره ټُنه جلغوزې د هوايي دهليزونو له لارې صادرې شوې دي.



# هرات کې ښځو ته د کاري زمينې برابرېدل

په هرات کې يوې مېرمنې د خوراکي توکو د توليد د يوه مرکز په جوړولو سره لسګونو ښځو ته د کار زمينه برابره کړې ده.

ډېرى ښځې او نجونې چې په دغه توليدي مرکز کې په کار ګومارل شوې دي، له ښوونځي محرومې شوې نجونې او بې سرپرسته ښځې دي.

نفس ګل جامي په ۱۰۰ زرو افغانيو خپل کاروبار پيل کړ، خو د لنډې مودې له تېرېدو سره يې خپل کاروبار پراخ کړى دى.

اوس څه باندې ۱۰۰ مېرمنې د نوموړې د خوراکي توکو د توليد او چمتووالي په مرکز کې پر کار بوختې دي.

په دغه مرکز کې د هرات له مېوو او سبزيو، مربا، آچار او رب جوړېږي.

د خوراکي توکو د توليد او چمتو کولو مرکز مسووله نفس ګل جامي وايي:«ځينې اړمنې چې واقعاً د خپلو کورنيو سرپرستې دي هغوى کار ته اړتيا لرله هغه معاش چې له دې ځايه يې ترلاسه کوي له کورنۍ سره يې مرسته ده او کولاى شي چې د خپلې کورنۍ نفقه ترلاسه کړي.»

دلته په کار بوختې ټولې مېرمنې د خپلو کورنيو سرپرستي پر غاړه لري. کومه تنخوا چې دوى يې له دې ځايه ترلاسه کوي، خپل ورځنى ژوند ورباندې مخکې وړي.

د هرات اوسېدونکې ظريفه رحماني څرګندوي:«موږ چې دلته راځو او کار کوو ډېرې خوشحاله يوو هم له اقتصادي پلوه او هم له روحي پوله له موږ سره مرسته کوي.»

د هرات بله اوسېدونکې توبا کريمي هم وايي:«موږ په کورنۍ کې اووه تنه يوو، خاوند مې کار نه شي کولاى زه ډېره خوشحاله يم چې له دغو ښځو سره کار کوم د خپل کور لګښت له همدې ځايه پيدا کوم.»

نفس ګل جامي سږکال د لوېديځې حوزې د ښځو د سوداګرۍ او صنايعو خونې له لوري د کال غوره متشبثې جايزه ترلاسه کړه. نوموړې توانېدلې په خپل کوچني کاروبار سره لسګونه نورو مېرمنو ته کاري فرصتونه برابر کړي.

په لوېديځ زون کې د ښځو د سوداګرۍ او صنايعو خونې مسووله نرګس هاشمي څرګندوى:«مېرمن نفس ګل جامي د بي بي خديجې جايزې چې د ښځو د سوداګرۍ خونې له خوا هر کال ورکول کېږي، ګټوونکې شوې او ټاکل شوې د بي بي خديجې جايزه او ۱۰۰۰ تر ۱۵۰۰ ډالرو پورې هم ترلاسه کړي.»

د دغه مرکز توليدات د لوېديځې حوزې پر ولايتونو سربېره؛ په کابل، کندهار، بلخ، غزني او ځينو نورو ولايتونو کې هم پېرودونکي لري.

د لوېديځې حوزې د ښځو د سوداګرۍ او صنايعو خونې د معلوماتو له مخې، وروستيو مياشتو کې په هرات کې د ښځو کاروبار بيا غوړېدلى او له ۳۰۰ زياتو مېرمنو او نجونو سوداګريزو فعاليتونو ته مخه کړې ده.



# له دولتي بنسټونو څه باندې یو مېلیارد افغانۍ پور راټول کړای شوی

د افغانستان برېښنا شرکت وايي، چې په څه کم شپږو میاشتو کې یې د دغه شرکت څه باندې یو مېلیارد افغانۍ پورونه له دولتي ادارو او څه باندې اویا مېلیونه افغانۍ پورونه له سیاستوالو او د مخکیني حکومت له چارواکو راټول کړي دي.

د دغه شرکت ویاند حکمت الله میوندي وايي چې د دغو پورونو له راټولولو سره توانېدلي، چې د منځنۍ آسیا له هېوادونو برېښنا وپېري.

ښاغلي میوندي څرګنده کړه:«د دې ترڅنګ، مونږ هغه پخواني سیاسیون او یا زورواکي چې وو له هغوی څخه له اویا تر پنځه اویا مېلیونه افغانۍ قرضداری راټولې کړې دي.»

د برېښنا شرکت پخوانی رییس امان الله غالب هم وايي:«په دغو سیمو کې د مخکې ورکړې میټرونه ولګول شي او له مالیې وزارت سره هوکړه وشي چې دولتي بنسټونه باید خپل د برېښنا بل د مالیې وزارت له لارې پرې کړي.»

بل خوا، د کابل د کانونو او صنایعو خونه وايي، په داسې حال کې چې ډېری فابریکه لرونکو د برېښنا شرکت پیسې ورکړې دي، خو کافي برېښنا نه ورکول کېږي او د فابریکو د تولیداتو کچه راکمه شوې ده.

د کابل د کانونو او صنایعو خونې مرستیال سخي احمد پیمان وايي:«په صنعتي پارکونو کې په ځانګړې توګه په کابل کې د برېښنا وضعیت په نارمل حالت کې نه دی او دغې چارې د کارخونو چارې هم له ستونزو سره مخ کړې دي.»

د کابل یو شمېر اوسېدونکي وايي، چې په کابل کې د برېښنا پرچاوي په بې ساري توګه زیاته شوې ده.

د کابل اوسېدونکی آرش وایي:«د هغوی پورونه چې ورکړل نو خلکو ته دې یو خدمت وکړي، برېښنا دې ورکړي د برېښنا بل یې راځي هغه هم د پخوا په کچه راځي خو برېښنا یې درک نه لري.»

د کابل اوسېدونکی سعید هم وویل:«زمونږ برېښنا خو هېڅ نشته په ۲۴ ساعتونو کې د شپې ۱۱ بجې راځي او د شپې ۱ بجه بېرته ځي.»

د کابل اوسېدونکی احمد شهیم هم زیاتوي:«خلکو ته دې سمه برېښنا برابره کړي چې په یوه ورځ کې لږ تر لږه ۱۲ ساعته برېښنا خلکو ته دې ورکړي بیا د خلکو یو څه ستونزې حل کېږي.»

د سرپرست حکومت د بهرنیو چارو وزارت د ټوېټر پر پرڼه لیکلي دي، چې د برېښنا د پرچاویو د ستونزې د حل لپاره د دغه وزارت سیاسي معین د افغانستان لپاره د ازبیکستان له ځانګړي استازي سره د برېښنا د وارداتو د زیاتوالي په تړاو خبرې کړې دي.




افغانستان د منځنۍ اسیا له هېوادونو او ایرانه برېښنا واردوي او تر اوسه له کورنیو سرچینو د برېښنا تولید د هېواد اړتیا نه ده پوره کړې.

# د کابل په هوايي ډګر کې د پانګې اچونې او بېړنۍ ویزې مرکزونو پرانسته وشوه

د افغانسـتان اسـلامي امـارت د کابـل پـه هوايـي ډګـر کـې د پانګـې اچونـې او بېړنیـو ویـزو د ورکـړې مرکزونـه پرانیستل.
پـه همـدې موخـه پـه جـوړو شـویو مراسـمو کـې د صنعـت او سـوداګرۍ وزیـر څرګنـده کـړې؛ د سـوداګرو او نړیوالـو پانګونـو لپـاره د تخنیکـي خدمتونـو او د ویـزو د ورکـړې پـه برخـه کـې د اسـانتیاوو د رامنځتـه کولـو لپـاره د دغـو مرکزونو جوړول اړین دي.
